د افغانستان اسلامي امارت

# د ملي دفاع وزارت

## د ستراتیژي او پالیسي معنییت

د دفاعي پالیسي او ستراتیژیک پلان جوروني سترتوب

## گزارش

فعالیت ها و دست آورد های عمده وزارت دفاع ملی طی سال ۱۴۴۵



# د ۱۴۴۵ هـ.ق کال د ملي دفاع وزارت د فعالیتونو او مهمو لاسته راوړنو د راپور لنډیز

**(لوی صاحب!)**

**د افغانستان د اسلامي امارت د ملي دفاع وزارت پیژندنه**

د نړۍ په کچه د پوځ اصلي مسؤلیت او رسالت د هېواد دفاع، ځمکنۍ بشپړتیا، ملي نوامیسو، ملي حاکمیت، خپلواکۍ او د هېوادونو د معنوي ارزښتونو له ساتنې څخه عبارت دي. له همدې امله دفاع او امنیت د هر هېواد لپاره یوه حیاتي او بنسټیزه موضوع شمېرل کیږي.

د افغانستان اسلامي امارت د ملي دفاع وزارت د هیواد د دفاعي او امنیتي اساسي بنسټ، د افغانستان ملي ځواک د یوې وسیلې او د ټولنې د ټولو قشرونو ترمنځ د ثبات او یووالي برابرونکي اداره ګڼل کیږي. دا وزارت خپله دیني، ملي او تاریخي دنده ګڼي، چې د افغانستان د جیو پولیټیک او جیوستراتیژیک وضعیت ته په کتو او د افغانستان اسلامي امارت د رهبرۍ د لیدلوري پر اساس د ملي اسلامي پوځ جوړښت او پراختیا په داسې ډول تنظیم کړي، چې په اوږدمهال کې د افغانستان دفاعي اړتیاو او غوښتنو ته ځواب ویونکي او په هیواد کې د اسلامي امارت د حاکمیت د دفاع لپاره خپله دنده سرته وشي رسولای.

د افغانستان د اسلامي امارت د ملي دفاع وزارت ونډه د امنیت د ټینګښت او د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي چوپړتیاوو وړاندې کولو لپاره د مناسبو شرایطو په رامنځته کولو کې اغیزمنه ګڼل کیږي. دغه وزارت په دوامداره توګه د هغو باالفعله ګواښونو چې ښایي په اوسني او راتلونکې کې د افغانستان ځمکنۍ بشپړتیا ته متوجه وي د هغو د مقابلې لپاره جدي او پرېکنده اقدامات کوي او په ورته وخت کې له ګاونډیانو سره د ښه ګاونډیتوب او متقابل درناوي اصولو مراعات کولو ته ژمن دی.

**(لوی صاحب!)**

**د ملي دفاع وزارت دنده او ستراتیژیک رول**

ملي دفاع وزارت د هیواد د جغرافیاوي او ستراتیژیک وضعیت او د اسلامي امارت د مشرتابه د لیدلوري په نظر کې نیولو، د هېواد د دفاعي اړتیاو ته د ځواب ویلو او د اسلامي امارت او د هیواد د ملي حاکمیت د دفاع د ستر رسالت د سرته رسولو لپاره د ملي اسلامي اردو د تشکیلاتی جوړښت او پراختیا برابروي.

1. **له حاکمیت او ارزښتونو دفاع:** اعلاء کلمت الله، د اسلام مبین دین حاکمیت، د اسلامي او ملي ګټو او ارزښتونو، د خپلواکۍ او ځمکنۍ بشپړتیا څخه ساتنه.
2. **د امنیت تامین او د قانون له تنفیذ څخه ملاتړ:** د هېواد په کچه د امنیت تامین، د قانون د تنفیذ څخه ملاتړ، د ملي انکشاف او بیا رغونې څخه ملاتړ او د شریعت په چوکاټ کې د بشر حقونو رعایت کول.
3. **له داخلي بنسټونو څخه ملاتړ:** په ځانګړو حالاتو کې د کورنیو چارو وزارت له محترم مقام څخه ملاتړ او د امنیتي ځواکونو د سوق او اداري مسوولیت په غاړه اخیستل، کله چې ګواښونه او بحرانونه د پولیسو له توان څخه بهر وي.

د کورنیو چارو وزارت څخه ملاتړ په ځانګړو حالاتو کې چې ګواښونه او بحرانونه د پولیسو له توان څخه بهروي.

- 4. د نورو وزارتونو سره مرسته: د افغانستان اسلامي امارت د نورو وزارتونو او بنسټونو څخه د مخدر توکو د کښت، ترافیک او قاچاق د مخنیوي په برخه کې ملاتړ کول.
- 5. په بیړنیو حالاتو کې مرسته : د اړتیا په صورت کې په بیړنیو حالاتو، طبیعي او غیر طبیعي پیښو او نورو بحرانونو کې ملکي وګړو ته د مرستي رسول او د بحرانونو په مخنیوي او د بیړنیو حالاتو په کنټرول کې له هغوی څخه ملاتړ کول.

**د بحرانونو مخنیوی او مدیریت.**

**6.** د همغږۍ ټینګښت او تشریک مساعي**:** په هېواد کې د امنیت د لا ټینګښت په موخه د دفاعي او امنیتي ارګانونو سره همغږي.

په اوږد مهال کې به د ملي دفاع وزارت د اسلامي ارزښتونو، خپلواکۍ، اسلامي او ملي ګټو، ځمکنۍ بشپړتیا، ملي حاکمیت او د هېواد د معنوي ارزښتونو د ساتونکي په توګه خپلې دندې ترسره کوي.

**(لوی صاحب!)**

**د ملي دفاع وزارت جوړښت**

د ملي دفاع وزارت په قرارګاه کې د ملي دفاع وزارت او ستر درستیز  قرارګاه وي شامل دي، له دې برسیره د مرکزي او سیمه ییزو قول اردو ګانو، د هوايي ځواک عمومي قومانداني او د هوايي دافع هوا، حمایوي او تامیناتي قوماندانیتونه وو، چې د هېواد په اووه ګونو زونونو کې شتون لري.

د هېواد دفاعي ځواکونه چې په لیکو کې اسلامي ارزښت لرونکي، مسلکي او د زغم په روحیو سمبالو او ژمنو اشخاصو څخه جوړه شوې ده، د افغانستان اسلامي امارت ته وفادار، د شایسته سالارۍ اصولو په نظر کې نیولو سره ایماني او وجداني دندې په سرته رسولو، د هیواد د مجاهد پروره خلکو او افغانستان پر وړاندې د مسؤلیت احساس کوي.

په ۱۴۴۵ ه.ق کال کې د ملي دفاع وزارت عمده لاسته راوړني په لاندې ډول دي.

**په ۱۴۴۵ ه.ق کال کې د ملي دفاع وزارت لاسته راوړني په لاندې ډول دي:**

**(د ستراتیژۍ او پالیسۍ معینیت)**

**د تشکیلاتو څیړنه او بیا کتنه:**

- په ۱۴۴۵ ه ق کال کې د ملي دفاع وزارت د تشکیلاتو مرور کمېټې له لوري څیړنه او بیا کتنه.

- په ۱۴۴۵ ه.ق کال کې د ملي اسلامي اردو له پوځي ښوونیزو مرکزونو څخه(۱۰۰۰۰۰) تنه منسوبين فارغ شوي.
- په نوو ګمارنو کې (۲۳۷) تنه مسؤلین د منظور شوي تشکیل مطابق د لوړ رتبه (جنرالۍ) په بستونو کې ګمارل شوي دي.
- د داخلي او خارجي ښوونیزو موسیساتو څخه (۶۰۵) تنه پوځي او ملکي مسلکي کسان فارغ شوي.
- (۱۱۵۵۳) تنه ملکي مسلکي پرسونل د بریدملۍ او ملکي بستونو کې توګه د ملي دفاع وزارت او ستر درستیز له لوري په قطعاتو او جزوتامونو کې د الکترونیکي وسايلو او تخنیکي وسایطو د بیا ځلي ترمیم او جوړولو په موخه جذب شوي دي.
- د مجاهدینو د لیکو(ملي دفاع وزارت، کورنیو چارو وزارت او د استخباراتو عمومي ریاست) مجاهدینو رتبې د تثبیت لپاره د ګډې کړنلارې په ترتیبولو کار دوام لري.
- د ملي دفاع وزارت (۲۵۶) تنه منصبداران او بریدملان تقاعد شوي.
- (۲۳۴) تنه مسلکي او تخصصي منصبداران او بریدملان تمدید شوي دي.
- د ملي دفاع وزارت او ستر درستیز اړوند د (۲۳) تنو متخصص کارکونکي (NTA) او (۳۵۳) تنه باالمقطع کارکونکي جذب شوي دي.

**(د ستراتیژۍ او پالیسۍ معینیت)**

**د حساب ورکونې او روڼتیا په برخه کې:**

د شفافیت او حساب ورکونې تامینول د افغانستان د اسلامي امارت د ملي دفاع وزارت له لومړیتوبونو څخه ده. د ملي دفاع وزارت په ۱۴۴۵ ه ق کال کې د مالي، اداري او تدارکاتو په سیستم کې د اصلاحاتو او د ملي اسلامي اردو د قطعاتو او جروتامونوکي د منظمې پلټنې له لارې د روڼتیا او د ملي بودجې د ضایع کیدو د مخنیوي او شفافیت د رامنځته کولو هڅه کړې ده.

د ملي اسلامي اردو د قطعاتو او جزوتامونو د اداري او مالي چارو منظمې پلټنې ترسره کول د ملي دفاع وزارت له بنسټیزو کړنو څخه دي، چې د روڼتیا او حساب ورکونې د تامین په موخه ترسره کیږي. په ورته وخت کې په ۱۴۴۵ ه.ق کال کې د ملي اسلامي اردو د قطعاتو او جزوتامونو د تفتیش لپاره پلان پلټونکي ټیمونه ټاکل شوي چې د پام وړ لاسته راوړنې يې درلودې.

**(لوی صاحب!)**

**د اوپراسيون کړنې:ـ**

**اوپراسيوني لاسته راوړنې:**

- د پرېکنده او تصفيوي عملياتو پلان جوړونه او تطبيق او همدا راز د افغانستان ملي اسلامي اردو د قطعاتو او جزوتامونو له خوا د هېواد په اوه ګونو زونونو کې د اوپراسيوني پرسونل د عملياتي فعاليتونو تطبيق، د مواصلاتي لويو لارو پرانيستل او د ثبات ساتل وو، چې د هيواد اقتصادي ودې لپاره يې زمينه برابره کړې ده.
- د (۸۱۳۳۵۲) اوپراسيوني فعاليتونو په پلانګذارۍ کې چې (امنيتي، کزمې، چکپاينتونه، تلاشي، چانيز عمليات او اکمالاتي دندې) شامل دي د ملي اسلامي اردو د قطعاتو او جزوتامونو پرسونل له لوري په اوه ګونو زونونو کې.
- د ۳۸۶ بېلابېل ډول وسايطو کشف او نيول.
- د ۵۸۸ ميله وړو او ۶۰ ميله لويو وسلو کشف او نيول.
- د ۱۳۸۳ کړۍ ماينو شنډول.
- د ۴۴ مخابرو او ۴۰ دوربينونو کشف او نيول.
- د ۱۹۸۲ موټر سايکلونو او ۱۵۱۵ کيلو ګرامه چاوديدونکو توکو کشف او نيول.

د ۲۳۹ لاسي بمونو او د يو زيات شمېر وړو او لويو مهماتو چې، همدارنګه په تيرو کلونو کې د ملي اسلامي اردو لاسته راغلي دي.

**(لوی صاحب!)**

**د سرحداتو په برخه کې:**

- د افغانستان ۲۰ ولايتونه ۹۰ ولسوالۍ له ۶ ګاونډيو هېوادونو لکه ايران، پاکستان، تاجکستان، ترکمنستان، ازبکستان او چين سرحد او د ډيورنډ فرضي کرښې سره نښلول شوې، ۶۳ کنډکونه په ۳۷ کمپونو، ۱۰۸ بيزونو او ۱۰۶۷ پوستې د امنيتي ګواښونو د مخنيوي له پاره د وسايلو او امکاناتو په درلودلو سره په ټاکل شوو سيمو کې ځای پر ځای شوي.
- د سرحدونو د ساتنې او د ګواښونو د مخنيوي او په ټاکلي وخت کې د ځواکونو اکمالات د سرحد او فرضي خط په اوږدو کې سرحدي پوستو ته مواصلاتي سړکونو د جوړولو په دوام يادو سرحدي پوستو ته په ۱۴۴۵ ه ق کال کې ۹۹۰.۱۶۵ کيلو متره سړک نوی رغول شوی او ۱۳۴.۷۳ کيلو متره سړک بيا ځلې ترميم شوی دی.
- په دغه وخت کې ګاونډيو هېوادونو سره د همغږۍ ۱۳ مرکزونه د ايران، پاکستان، تاجکستان، ترکمنستان، ازبکستان او چين کې ايجاد شوي دي، چې په اوس وخت کې ۵ مرکزونه فعال دي او د نورو پاتې مرکزونو په فعالولو کار دوام لري.

- تیر کال، ۳۵۸ سرحدي پوستي پر بېلابېلو سیمو کې تثبیت او د یادو پوستو په جوړولو کار دوام لري.
- دغه راز له پاکستان پرته د پنځو ګاونډیو هېوادونو سره د سرحدي ځواکونو د تطبیقي میکانیزم مسوده چمتو شوي ده.

- همدارز د سرحدي لوا پرسونل لپاره فوق العاده کورسونه جوړ شوي او د ۱۴۴۵ ه.ق په اوږدو کې ښوونیز سیمینارونه د سرحدي ځواکونو د ظرفیت لوړونې په خاطر دایر شوي دي.

**(لوی صاحب!)**

**په هوايي برخه کې:**

په ۱۴۴۵ ه ق کال کې د هوايي ځواکونو عمومي قوماندانی ۴۲۱۸ وظیفوي او ښوونیز پروازونه تر سره کړي، چې په پایله کې ۲۳۳۴۸ تنه مسافر د حکومتي مقاماتو، امنیتي پلاوو او د ملي دفاع وزارت پرسونل په شمول، ۱۱۲۶۲۳ کیلو ګرامه وزن لیږدول شوی دی.

**د هوايي ځواکونو لاسته راوړنې:**

- د شیږو (MI-17)چورلکو تخنیکي ریسورس تمدید شوي دي.
- د یوې بلک هاک (UH-60) الوتکې رغول.
- له یوې اوږې وقفې وروسته د مدافعه هوايي او هوايي پوهنتون بیا ځلې فعالول، ۲۴ تنه مجاهدین د پیلوټې مسلک ته معرفي کول او هغوې ته د نظري زده کړو بشپړول او عملي پروازنو ښوونه.
- امن سیمو او روغتیایي مرکزونو ته د طبیعي پېښو پر مهال د ۷۷ شهیدانو او ۵۶۷ تنه ټپیانو استول.
- د ظرفیت لوړونې په موخه ۱۰ تنو عملي ته د N-26 الوتکو او MI35 چورلکو، الوتنې.
- د هوايي ځواکونو په الوتکو او چورلکو کلني ریګلامنتي اړینو معایناتو اجراکول.
- د هوايي ځواکونو له لوري په ۱۴۴۵ ه.ق کال کې مهمې لاسته راوړنې، د ۲۵۹ تنه منصبدارانو، ۳۷۰ تنه مجاهدین، ۲۵۹ تنه بریدملان او ۱۱ تنه عسکر له بېلابېلو کورسونو څخه فارغ شوي دي.

**(د ستراتیژۍ او پالیسۍ معینیت)**

**د ملي دفاع وزارت د مالي او بودجې په برخه کې:**

**د مالي او بودجې په برخه کې:**

- د افغانستان د مالي معلوماتو مدیریت سیستم( آفمیس)  څخه د مالي مدیریت په برخه کې ګټه اخیستنه

- مرکزي بانک ته د ملي دفاع په وزارت د مجاهدینو او کارمندانو معاشونه مالي وجې د ورکړه مرکزي په شفافه توګه.
- د ۱۴۰۲ مالي کال د مصارفو د راپورونو د قطعیه پراساس جوړ او مالیه وزارت ته لیږدول شوي دي.
- د ملي دفاع وزارت ۴۵,۰۳۳,۴۷۷,۶۴۳ پنځه څلویښت ملیاردو دري دیرش میلیون و څلو سوه او اوه اویا زره و شپږ سوه او دري څلویښت افغانۍ د افغانستان اسلامي امارت د داخلي عوایدو څخه په ۱۴۰۲ مالي کال کې تر لاسه کړي چې ۹۶ سلنه جذب شوي.
- ۲۹,۸۳۷,۴۳۰ افغانۍ د خالصه عوایدو په توګه را ټول شوي او د ملي دفاع وزارت حساب ته لیږدول شوي دي.
- د ۲۴,۴۳۴,۲۰۷ افغانۍ ناخالصه عواید د اسلامي امارت خزاني ته راټولول یوه بله لاسته راوړنه ده چې تیر کال کې تر سره شوي.

**(لوی صاحب!)**

__د ملي اسلامي اردو منسوبینو د ښوونې او روزنې په برخه کې:__

د ملي اسلامي اردو ځواکونو ښوونه او روزنهیو له اساسي عواملو څخه ده چې د دغو ځواکونو پیاوړتیا او پرمختک د خپلواکې د ساتلو ، ځمکنۍ پشپړتیا ، د ملي نوامیسو ، د هیواد اسلامي او ملي ارزښتونو د ساتلو لامل دی ملي دفاع وزارت خپل کوښښ کړی چې تر څو د اسلامي ملي اردو ځواکونه لازم تعلیمات په ښوونیز او تحصیلي مراکزو کې تر لاسه کړي اؤ بیا خپلو دندو ته لاړ شي . د همدې موخې لپاره ملي دفاع وزارت د اسلامی ملي اردو د ښوونې او مسلکي توپ په موخه د اغیزمنو تدابیرو پر نیولو سره په تیر کال کې د قرصتو د رامنځ ته کولو سربېره د ښوونې او روزنې په برخه کې د پام وړ لاسته راوړنې یې تر لاسه کړي چې له دې جملې څخه:

د چین هېواد مختلفو بورسیو کې د ۹ تنو مجاهدینو ور پیژندل.

- ✓ ۱۸۳ تنه د صحي مختلفو برخو ته پیژندل شوي او ۴۰۲ تنه نور له دې برخې فارغ شوي.
- ✓ په عربستان هېواد کې د قرانکریم د حفظ بین المللی سیالیو ته د ۱۰ تنه کاندیدانو پیژندل.
- ✓ د روسېې هېواد ته دستاژ دورې د سرته رسولو لپاره د نظامي طب ۹ تنو فارغانو لیږدول.
- ✓ د دولسم ټولګي ۵۰۰تنه فارغان د حضرت معاذ بن جبل پوځي اکاډمۍ لومړي ټولګي پیژندل شوي دي.
- ✓ د هوایي او مدافعی هوایي پوهنتون ته د دولسم ټولګیو ۱۲۰ تنو فارغانو جذب.
- ✓ د حضرت نعمان بن ثابت پوځي ملي اکاډمي ته د ۳۹۰ تنو مجاهدینو ، د حربي ښوونځي او دولسم ټولګیو فارغانو جذبول.
- ✓ د حضرت عقیده بن جراح ملي دفاع پوهنتون او عبدالله بن مسعود ګډو جګړه ییزو زده کړو قوماندانیو د مؤسساتو او مسلکي ښوونځیو څخه د ۵۴۱۴ تنو فارغیدل.

- ✓ د مرکزي او سېمه ایزو قول اردو ګانو د درتهدابي تعلیماتو له کورسونو څخه د اسلامي ملي اردو د ۱۲۷۸۱ تنو منسوبینو فارغیدل.
- ✓ مرکزي او سېمه ایزو قول اردو ګانو د ښوونیزو مرکزوتو د مختلفو کورسونو څخه د ۴۱۸۲ فارغیدل.
- ✓ د پوځي طب د مختلفو رشتو څخه د ۷۳ تنو محصلینو فارغیدل.
- ✓ حضرت ابو عبیده بن جراح ملي دفاع پوهنتون او عبدالله بن مسعود د ګډو جګړه ییزو ذده کړو قوماندانیوکي د ۴۰۰۲ تنو محصلین او طلاب تر تعلیم نیول شوي دي.
- ✓ ۳۶۰ملکي کارکونکو ته ۲۴ ښوونیزه برنامي تر سره شوي دي.
- ✓ په ټولو قطعاتو او جزوتامونو کي ۱۰۰۰۰کم سواده او بی سواده بریدملانو او سرتېرو ته په ورځ کې ۲ ساعته د سواد د زدکړې کورسونه جوړ شوي دي.
- ✓ دکم سواده او بی سواده بریدملانو لپاره ۳۱۰۰۰ د سواد د زدکړې درسي کتابونه د ملي دفاع وزارت د مخابرې او معلوماتي تکنالوژی د مطبعي له خوا چاپ او د دوي په واک کي ورکول شوي دي.
- ✓ د توپچي د مختلفو مسلکونو مسلکي کورسونو څخه ۳۰۹۹تنه فارغ شوي او ۱۷۸۴ تنه نور په زده کړو بوخت دی.
- ✓ د انجینري له مختلفو کورسونو څخه ۲۵۶ تنه فارغ او ۱۵۲۹ تنه نور په تعلیم بوخت دي.
- ✓ د ظرفیت لوړوني په برخه کي د قطعاتو او جزوتامو پرسونلو ته مسلکي سیمینارونه جوړ شوي دي.
- ✓ د مخدره توکو سره د مبارزې د پالیسۍ د تشریح او د مخدره توکو څخه د استعمال د مخنیوي ستراتیژیک لاربنود په باره کي د ملي اسلامی اردو په قطعاتو او جزوتامونو کي ښوونیز سېمینارونه جوړول او د تعلیم او تربیي په برخه کي یو شمیر نوري کړني په ۱۴۴۵ ه ق کال کي تر سره شوي دي.

**(د ستراتیژۍ او پالیسۍ معینیت)**

## د حقوقو او جنایي څېړنو په برخه کې::

ملي دفاع وزارت جنګي قوانینو او د بشري حقونو د ټولو معیارونو له مخې د اسلامي شریعت سره سم د اسلامي ملي اردو منسوبینو ته د پوهاوي لومړیتوب ورکوي، په دې پوهاوي کې د وسله والو شخړو د قانون په اړه روزنه، د جګړې پر مهال د ملکي وګړو ساتنه او ملاتړ ، د ملکي وګړو له تلفاتو څخه مخنیوی، د عالیقدر امیر المومنین حفظه الله د حکمونو او فرمانونو تطبیق شامل دي. دغه راز د ملي اسلامي اردو د قطعاتو او جزوتامونو پرسونل ته د شریعت سره سم د نړیوالو بشردوستانه قوانینو د ملاتړ او تطبیق درس هم ورکړل شو.

له همدې امله د ملي دفاع وزارت د حقوقو او جنایي څېړنو په برخه کې لاسته راوړنې په لاندې ډول دي:

- ځرنګه چې د فتحې څخه وروسته د هېواد په ګوټ ګوټ کې امنیت تامین دی او جګړییزو خوځښتونو ته اړتیا نشته له همدې امله د ملکي تلفاتو ګراف د هېواد په کچه صفر ته رسیدلی دی.
- په ۱۴۴۵ هـ ق کال کې د (۷۳۸) شکمنو او تورنو کسانو په ګډون (۴۱۹) جلده جزایي دوسیي د څېړونکو له خوا څېړل شوي چې له دې جملې څخه (۲٤۸) جلد په ګډون (٤٤۸) تورنو کسانو دوسیه د شرعي حکمونو د صادرولو لپاره باصلاحیته پوځي محکمو ته استول شوې . دغه راز (۸۵) دوسیې چې (۱۴۹) تنه شکمن او تورن کسان پکې شامل دي د اجباري دلایلو، تشو او یا د تحقیق د نیمګړتیاو له امله اړوندو مراجعو ته بیرته لیږل شوي او یا نورو با صلاحیته مراجعو ته سپارل شوي دي.
- همدارنګه د ۳۷ حقوقي قضیو په باره کې نظر اخیستل شوی او نتیجه یې اړونده مراجعو ته لیږل شوی. دغه راز په سیمه ایزو قول اردوګانو کې له فتحې مخکې د پورونو د تضمین، دعوا او امنیت په اړه د ګمارل شوې کمیټې د شخصي بیاکتنې کار بشپړ شوی دی او راپور یې تر څېړنې لاندې دی
- په ۱۴۴۵ هجري لمریز کال کې څلور ټیمونه د منظم پلان له مخې مرکزي او ساحوي واحدونو ته د جنایي څیړنو او حقوقي مشاوریت مدیریتونو د څارنې په موخه سفرونه وکړل او دوی د دې مدیریتونو څخه لیدنه او کنټرول کړی دی. په پایله کې د ذکر شویو ادارو مسوولینو ته د عدالت د ښه تامین، اداري چارو او د حقوقي اعلاناتو د ښه ترویج په موخه لازمې لارښوونې او مشورې وړاندې شوې.
- دغه راز د حقوقي زده کړو پنځه دورې سمینار د صاحب منصبانو، بریدملانو او ساتنمنانو د میراثي چارو د قانون اړوند، د بین المللی وسلوالو شخړو قانون، او د جزا قانون د (۱) ضمیمي محتویات د پرسونل د ظرفیت د لوړولو په موخه نیول شوي دي.

**<u>(ویاند)</u>**

**<u>د عقیدتي او فرهنګي برخه کې:</u>**

د ملي دفاع وزارت عقیدتي او فرهنګي برخه د دغه وزارت د منسوبینو ترمنځ د دیني او فرهنګي زده کړو په برخه کې بېلا بېل پروګرامونه پرمخ وړي. دغه پروګرامونه د دیني پوهاوي د لوړولو، د اسلامي ملي او انګېزې د زیاتوالي او د هېواد له ملي حاکمیت او ځمکنۍ بشپړتیا څخه د دفاع د روحیې پیاوړتیا په موخه په لاره اچول شوي دي.

- د ملي دفاع وزارت او ستر درستیز په قرارګاه کې ټولو منسوبینو لپاره دیني زده کړې او اصلاحي درسونه په لار اچول شوي دي.
- د مختلفو رتبو(صاحب منصبان، بریدملان او سربازان) له مخې د عقیدتي او فرهنګي درسونو په منظم ډول په هفته کې دوه ورځې د ملي اسلامي اردو په ټولو قطعاتو او جزوتامونو کې د ملي حاکمیت څخه د دفاع انګیزو د پیاوړتیا، ځمکنۍ بشپړ تیا، ازادي، ملي نوامیسو او د هېواد د ملي او اسلامي ارزښتونو په منظور دایرول.

- د منسوبينو د سيرت او صورت په تړاو د ملي دفاع وزارت او ستر درستيز له قرارګاه، رياستونو، د پرسونل معاونيتونو څخه د دغه وزارت د امر بالمعروف او نهی عن المنکر مسؤلينو کنترول او ارزيابي.
- د ملي دفاع وزارت او ستر درستيز اړوند مراجعو ته لکه د (سهار او ماښام ازکار) فوق العاده بروشور، قراني مسايل، رمضان المبارک مسايل او فضايل پمفلټ برابرول، چاپ او ويشل.
- قطعاتو او جزوتامونو ته په پښتو ژبه د (تفسير شريف درسونه) او په پښتو او دري ژبو د فقهي د درسونو کتابونو برابرول، چاپ او توزيع کول.
- د اسد د ۲۸ نيټې په مناسبت د « هيواد د خپلواکۍ بيرته اخيستل » تر سرليک لاندې د يوې په زړه پورې رسالې برابرول او توزيع.
- د اميرالمؤمنين حفظه الله د فرمانو د تطبيق، اطاعت، نظم او ډسپلين، پاکۍ او صفايي په هکله د فوق العاده درسونو پر مخ وړل.

له بلې خوا په ۱۴۴۵ هجري قمري کال کې ۱۶۰ باب مدرسي په قطعاتو او جزوتامونو کې فعالې دي. همدارنګه په دغه کال کې په تعداد د ۷۳۹ تنه له لوی دورې او ۸۵۴ تنه له وړې دورې څخه فارغ شو او همد اوس ۱۹۵۲۳ تنه په ديني زده کړو بوخت دي.

**(د ستراتيژۍ او پاليسۍ معينيت)**

**د پاليسيو په برخه کې:**

د ملي دفاع وزارت د پاليسۍ برخه د مقرراتو په جوړولو او بهبود کې د يو مهم رکن په توګه د فعاليتونو په همغږي کولو، تنظيمولو او په دفاعي ستراتيژيو کې مهم رول لوبوي. د دې څانګې وروستي فعاليتونه:

- ✓ د ملي دفاع، کورنيو چارو وزارتونو او د استخباراتو د عمومي رياست د ۶ اصولي اسنادو بيا ځلي کتنه بشپړ شوي او د حنفي فقې له تاييد وروسته د راتلونکو مرحلو طی کولو لپاره عدليې وزارت ته استول شوي دي.
- ✓ د ملي دفاع وزارت په بېلابېلو برخو کې د ۵۴ عنوانه پاليسيو او طرزالعمل بيا ځلي کتنه، چې د شرايطو، اړتياوو او د ملي دفاع وزارت تشکيلاتي جوړښت سره مطابقت او د اسلامي امارت له پاليسيو سره د هغې عيارول.
- ✓ د اړوندو قوانينو تر توشيح پورې د ۱۶ عنوانه بشپړو شوو پاليسيو او طرزالعملونو بياکتنې کار ځنډول.
- ✓ د ملي دفاع وزارت د ملکي مارينو د هېواد پوهنتونونو، انستيټيونو او ځانګړو کور سونو ته د پيژندنې لپاره د طرزالعمل جوړول.

او د ملي دفاع وزارت واکونو په اړه د موقف قانون د طرحې بشپړول او په رسمي توګه د عدليې وزارت ته استول.

**( د ستراتیژۍ او پالیسۍ معینیت)**

**د بین المللی مرستو په برخه کې:**

د ملي دفاع وزارت د ۱۴۴۵ ه.ق په اوږدو کې د هندوستان له هېواده ۸۵ قلمه درمل او ۱۹ قلمه لابراتواري ریجنټ، له پاکستان څخه ۲۳ قلمه درمل او د متحده عربي اماراتو څخه ۲۴ قلمه مرسته جذب کړې ده.

**(د ستراتیژۍ او پالیسۍ معینیت)**

**د زیر بناوو جوړولو په برخه کې:**

په ۱۴۴۵ ه.ق کال کې د ملي دفاع وزارت د بنسټیزو تاسیساتو د بهبود لپاره مهم ګامونه اخیستي او د ملي اسلامي اردو د قطعاتو او جزوتامونو د اړتیاوو او هغوی ته ا امکاناتو په پوره کولو مهم ګامونه اخیستي دي. چې تر ټولو مهم ګامونه یې په لاندې برخو کې عبارت دي له:

- د لګښتونو د ژغورلو او د چاپیریال ککړتیا د مخنیوي په خاطر د ملي اسلامي اردو یو شمېر قطعات او جزوتامونه د ښاري برېښنا سره نښلول.
- په قطعاتو کې د ۲۴ جوماتونو د کار بشپړول او ګټې اخیستنې ته سپارل.
- د ملي اسلامي اردو په قطعاتو او جزوتامونو کې د پاکو اوبو څخه د ګټې اخیستنې په موخه د ۲۲ څاګانو ویستل.
- د اړتیاوو په نظر کې نیولو په خاطر یو شمېر وداني، بیزونه، سرحدي پوستې، ښوونیز ډګرونه او د وسایطو پارکونه نوي جوړ شوې او دغه لړۍ دوام لري.
- د ملي اسلامي اردو د انجینرۍ پرسونل له لوري د قطعاتو او جزوتامونو د مسؤلیت په سیمه کې د ۳۱۳.۱۴۸ کیلو متره نوي سړک جوړول او د ۲۲۳.۲۶ کیلو متره سړک ترمیم کېدل.
- د مرکزي قطعاتو د تاسیساتو او وسایلو فعال ساتل او مراقبت.
- و همچنان مبلغ 11,886,959 افغانی از کرایه جایدادهای وزارت دفاع ملی از تاریخ اول اسد تا حوت سال 1402 هجری شمسی به عواید دولت تحویل گردیده است.
- همدارار د ۱۴۰۲ ه.ش کال د زمري له لومړي تاریخ څخه د کب تر میاشتې، ۱۱۸۸۶۹۵۹ افغانی د ملي دفاع وزارت د ملکیتو څخه کرایي راټولې شوې او د دولت عوایدو ته سپارل شوي دي.

**(لوی صاحب!)**

**د روغتیایي خدماتو په برخه کې:**

- د ملي دفاع وزارت د قطعاتو او جزوتامونو ټول مرکزي او سیمه ییز روغتونونه او کلینیکونه(د شهید سردار محمد داود خان روغتون، د سهیلا صدیق نسایي ولادي او ماشومانو روغتون، دویم نمبر ضمیموی روغتون، مرکزي پولیکلینیک، پنځه سل بستریزه سیمه ییزه روغتونونه، پنځوس بستریزه دوه تروما سنټره او ۵۱ کلینیکونه او د ملي دفاع وزارت په قطعاتو او جزوتامونو کې ۲۴۰ روغتیایي مراکز روغتیایي کلینیکونه) د مسلکي پرسونلو او مدرنه امکاناتو او وسایلو په درلودو فعال دي. یاد مراکز د

اسلامي امارت دفاعي او امنيتي ارګانونو منسوبينو ته په وړيا توګه روغتيايی معياري خدمات وړاندې کوي.

- د ۱۴۴۵ ه ق کال په اوږدو کې ۱۰۹۳۲۱۳ تنه ناروغان د ملي دفاع وزارت اړوند روغتونو او صحي مرکزو ته يې مراجعه کړې چې له دې جملی څخه ۱۰۸۱۰۳۳ تنه بعد له معاينې درمل ورکړل شوي او ۱۲۱۸۰ تنه يې بستر شوي او ۷۰۶۶ تنه مريضان د جراحی عملياتو لپاره په پلان کې نيول شوي دي.
- د شهيد سردار محمد داود خان د کارديو لوژي سرويس او د کندهار ساحوي روغتون د نفرولوژي سرويس بيمارانو ته د ښه سهولت په وړاندې کولو لپاره د مستشفی عمر سيمه ايز روغتونونو په کندهار او مزار شريف کې افتتاح او په فعاليت يې پيل کړې ده.
- په کندز او بدخشان ولايتونو کې په ملي او نظامي برخو کې د صحيه قوماندانی د مجربو ډاکټرانو له خوا د ساين مرکزونه جوړ شوي دي.
- د ۱۴۴۵ ه ق کال کې ټول ۷۰۶۶ جراحی عمليات د ملي دفاع وزارت په شفاخانه او صحي مرکزونو کې تر سره شوي.

## <u>د طبي وسايلو د ترميم او نصب په برخه کې:</u>

- د شهيد داود خان روغتون کمپلکس او د مرکزي پولي کلنيک اړوند وارډونو ته د ۲۹۳ پايې طبي وسايلو او ماشينونو ترميمول او سپارل.
- د ساحوي روغتونو او کلنيکونو لپاره د ۵۸ پايې ماشينونو ترميمول.
- د اسلامي اردو په روغتيايي مرکزونو کې د۷۰ پايې مختلف النوعه طبي دستګاوو نصب او ګټې اخيستنې ته وړاندې کول.
- او همدارنګه د ملي اسلامي اردو په روغتيايي مرکزونو کې ۲۳ پايې مختلف النوعه نوې طبي دستګاوې نصب او ګټې اخيستنې ته وړاندې شوي.

**د وقايوي طب په برخه کې:**

- د ملي دفاع وزارت روغتونونو او کلينيکونو د اړتيا تامين په موخه د خارجي او داخلي شرکتونو څخه د ۸۰۰ قلمه درملو، د لابراتوار ريجنټونو، عينياتو او نور طبي لازمو توکو اخيستل او اکمال.
- د طبی علومو اکاډمی د روغتيايي علومو قوماندانی قرارګاه، د لوژيستکي حمايي قوماندانی، روغتيايي قوماندانيو او همدارنګه د ۲ نمبر ضميموي روغتونونو قوماندانيو پرسونلو لپاره د واکسينو تطبيق درې ورځنی کمپاين په لاره اچول او ياد پرسونل ته انفلونزا او ټيټانوس ډيفتري واکسينونو ترزيق او تطبيق.
- دکرونا ناروغۍ وايروس باندې ککړيدو مخنيوي او خطر کموالي لپاره د عامې روغتيا د کتلوي معافيت له رياست څخه د ۷۰۰ ډوزو کرونا واکسينو اکمال.
- د ملي اسلامي اردو د قطعاتو او جز تامونو ته د وقايوي طب په برخه کې د پوهاوي لوړلو لپاره د ۱۳ ډوله مختلفو پوسترونو چاپ، اکمال او ويشل.
- د شهيد سردار داودخان روغتون کمپلکس کې د عامې روغتيا وزارت د بايوميډيل برخې انجيرانو په همکارئ سره د بيولوژيکي کثافونو په مصؤن ډول دفع کولو او ژوند مخيط ککړتيا مخنيوي په خاطر د يوې پايې انسينراتور نصب او منتاژ.(Incinerator)

## د معلولینو په برخه کې:

- د معلولینو لپاره مصنوعي غړو جوړولو په برخه کې د مرستې په موخه "د العمر بیارغونی مرکز" تخصصي مرکز پرانیستل.
- ۶۶ تنه چې له دواړو پښو څخه فلج وه، د سره صلیب نړېوالې کمېټې ته د طبي توکو او ساده ویلچرونو ترلاسه کولو لپاره لیږدول او همدارنګه د ۵۶ تنه نور معلولین د مصنوعي غړو او د نورو طبي لوازمو ترلاسه کولو لپاره د سره صلیب نړېوالې کمېټې ته ورپیژندل.
- په اړوند ولایتونو کې د سره صلیب نړېوالې کمیټې ته د ۴۴ تنو معلولینو ورمعرفي کول.
- ۱۷ تنو معلولینو ته د برقي ویلچرونو او ۱۰ تنو ته د ساده ویلچرونو ویشل.
- "ارتقاء" خصوصي مؤسسي ته د مصنوعي غړو ترلاسه کولو په موخه د ۱۱۶ تنو معلولینو معرفي کول.
- د مصنوعي غړو د جوړونې مرکز لپاره د ترکیې له هیواد څخه د ۲۲۸ قلمه مختلف ډول اجناسو او ماشینونو اخسیتل او د اړوند پروسې بشپړول.
- د مصنوعي غړو جوړولو لپاره د دوه پایو غټو برقي داشونو، د سکشن دوه پایو ماشینونو، ۹۱ قلمه د مختلف ډول کاري طبي لوازمو اکمال.
- د معلولینو لپاره د ۳۰ دانې نورو برقي ویلچرونو اکمال.
- پردې سربیره د ۱۲ تنو معلولینو لپاره "د العمر" په مرکز کې د مصنوعي غړو جوړول او همدارنګه د ۱۱ تنو لپاره د مصنوعي غړو جوړولو بهیر تر کار لاندې دی.

**(وياند)**

## د قطعاتو او جزوتامونو د اکمال په برخه کې:

د ۱۴۴۵ هجري قمري کال په لړ کې د ملي دفاع وزارت د ملي اسلامي اردو د قطعاتو او جزوتامونو د اکمال او اړتیاوو د پوره کولو په برخه کې اړین اقدامات ترسره کړي، چې په دې اقداماتو کې؛ د قراردادونو لاسلیک، د تجهیزاتو برابرول او د نظامي فعالیتونو د ملاتړ او د بیت المال خوندیتوب پر موخه د سرچینو غوره مدیریت په کې شامل دي. ددې برخې لاس ته راوړنې عبارت دي له:

- په ۱۴۴۵ کال په لړ کې ۱۵۶ قراردادونه ترسره شوي چې په دې قراردادونو کې د تقریبا ۳۳۰ میلونو افغانۍ د افغانستان اسلامي امارت په ګټه صرفه جویي شوې ده.
- ۱۴۱۸۷۰صوبه مختلف ډول پلنګي جمپر او ۱۳۲۶۰۴ صوبه دریشی او پتلونونو قطعاتو او جز و تامونو ته اکمال شوي.
- د بیت المال ساتنې په موخه په ملي کچه د ټولو ډیپوګانو؛ د وسلو، د وسلو پرزو، د وسایطو پرزو، البسي او مهماتو ډیپوګانو څېړنه او د اجناسو موجودی مدیریت بهیر پیلول.
- د تجهیزاتو ساتلو او ساتنې لپاره د ۴۰۸ ضرب توپ او توپچي دستګاوو پاکول او بیا رنګول.
- د ملي اسلامي اردو د قطعاتو او جز و تامونو ته د عملیاتي او لوژستیکو اړتیا پوره کولو په موخه په منظم او ټاکلي وخت د هوا او ځمکي له لارې اکمالات ترسره کول.
- د قطعاتو او جزوتامونو لوژستیکي او تخنیکي برخې آمرینو د ستونزو حل په موخه اونیز سیمینار دایرول.

**(وياند)**

**د مرستو رسونې په برخه کې :**

د افغانستان ملي اسلامي اردو د هیواد د یو مهم ارکان په توګه په بیړنیو حالاتونو، طبیعي پیښو او غیر طبیعي بحرانونو کې له ملکي وګړو سره د مرستې په برخه کې مهم رول لوبوي. د ۱۴۴۵ ه.ق کال په لړکې د ملي دفاع وزارت وکولای شول چې د لاندې اقداماتو په کولو سره د هېواد په بېلابېلو سیمو کې له ملکي وګړو سره حیاتي مرستې ترسره کړي:

۱. د هرات ولایت د زلزله ځپلو او د بدخشان په یاوان ولسوالۍ کې د ځمکې ښویدنې له قربانیانو سره د پنځوس میلیونه افغانیو په ارزښت مرسته.

۲. د هېوادوالو ګټې اخیستې په موخه د هیواد په بېلابېلو سیمو کې د ۳۲۷.۹۷۶ کیلومتره سړکونو بیارغول او جغل اچول.

۳. د ۱۷۱.۵۸۹ کیلومتره سړکونو پاکول او پرانیستل چې د سیلابونو، واورو او بارانونو له امله ویجاړ شوي وو.

۴. د ۴۵۹ کیلومتره سړکونو د بیا پرانېستل او پاکول چې د واورې د وربښت له امله بندې شوې وو.

۵. د هېواد په بېلابېلو مفرزو کې د ۵۳۹۱۳۶ متره مربع په کچه د کېدنو، لیول کارۍ، هوارولو چارو ترسره کول.

۶. د هیواد په بېلا بېلو برخو کې د ۵ استحکامي پلونو فرش کول او ګټې اخیستنې ته وړاندې کول.

۷. همدارنګه ۷ حلقې د اوبو حوضونه چې ۳۸۷ متره اوږدوالی، ۳۰ متره سور او ۶ متره ژوروالی لري کیندل او بشپړ شوي دي.

**(د ستراتیژۍ او پالیسۍ معینیت)**

**د شکایت اوریدلو په برخه کې:**

د ملي دفاع وزارت د سرمفتشۍ په چوکاټ کې د (۱۹۶) وړیا شمېرې په مرسته د شکایتونو اورېدلو مرکز جوړ شوی چې ۲۴ ساعته په درې شفټونو کې د (۲۵) تنو تجربه لرونکو او مسلکي کسانو سره فعالیت ترسره کوي. په ۱۴۴۵ ه.ق. کال کې یاد مرکز ته (۸۸۳۳۰ ) شکایتونه ترلاسه کړي، چې له دې جملې څخه ۴۷۵۵۴ شکایتونه رسیده ګی وړ نه وه خو بیا هم یې شکایت کوونکو ته لازمي لارښوونې شوي دي. همدارنګه (۷۷۶) شکایتونه د رسیده ګۍ وړ ګڼل شوي چې یادو شکایتونو له جملې (۷۳۲) شکایتونه مرکزي او ساحوي قطعاتو تفتیش مدیریت ته د رسیده ګۍ لپاره راجع شوي او پاتې نور (۴۴) شکایتونه په مرکز کې تر تعقیب لاندې نیول شوي.
د پردې سربیره د مسؤلینو د سرغړونو دوسیې هم د څېړنې او تعقیب په موخه اړوندو مراجعو ته محول شوي.

**(د ستراتیژۍ او پالیسۍ معینیت)**

**د لارښونیزو سیمینارونو برخه کې :** د تفتیش له دندو څخه یو د تدارکاتو، لوژستیک، مالي او بشري سرچینو برخو سره همکاري او هغوی ته لازمي لارښوونې کول دي. د دې اداري د پلان سره سم د مؤظفو ټیمونو د هرې تفتیشۍ دورې په پای کې د تفتیش شویو مراجعو محسبینو او متعمدینو ته ځانګړي سیمنارونه دایر کړي، چې په دې سیمینارونو کې د هغوی د دندو او مسؤلیتونو په اړه لازمي لارښوونې ترسره کړي.

**(لوی صاحب)**

**د ستر درستیز تویچې په برخه کې:**

د ۱۴۴۵ ه. ق کال په لړ کې د ملي اسلامي اردو مرکزي قطعاتو او قول اردوګانو او فرقو په ورکشاپونو کې لاندې تجهیزات ترمیم شوي:

۸۳ضرب ډي سي توپونه ، ۱ ضرب ۱۰۰ملي متر دا فع هوا توپ، ۱۱ضرب ۷۶م م توپونه ،۴ضرب ام سي توپونه،۱ ضرب ۱۳۰م م توپ، - ۱۹ ضرب زیوا -۲۳ ،۴عدد د هوا بالونونه ،۱۰ضرب ۱۰۰ م م صحرایی توپونه ،۲ ضرب ۵۷م م تانک ضد توپونه،۲ ضرب ۸۲م م توپونه ،۴ ضرب ۸۵ م م توپونه ، ۵ ضرب ۱۵۲ م م توپونه ،۵ بی ام - ۱ دستګاوې ،۴ میله۱۲۰م م هوان،۳ عدد هاوان ۱۲۰ م م مسند او ۵ ضرب زیکویک توپونه و ۳ ضرب چهار چین شلکا.

**(ویاند)**

**د ملي دفاع وزارت د ملکیتونو او ساختماني برخه کې:**

- د ۲۱۹ عمرثالث د فرقې او د ۲۰۹ الفتح قول اردو د پنځمې لوا دوهم کنډک لپاره د تاسیساتو جوړول.
- په تخار ولایت کې د عمري قول اردو دوهمې لوا شپږم کنډک لپاره د ۱۱۰ کسیز بارک ساختماني چارې بشپړ کول.

د لوژستیک عمومي قومندانۍ لپاره د تیلو ذخیرې جوړول او په مرکزي او ساحوي قطعاتو کې د څښاک د اوبو (۲۲) څاګانو کیندل.

**(ویاند)**

**د ستراتیژیکو اړیکو او عامه چارو په برخه کې لاس ته راوړنې:**

۱. د ملي او نړیوالو رسنیو سره د بیلا بیلو اړینو موضوعاتو په اړه چې د هیواد امنیت او ثبات په تامین کې د افغانستان د اسلامي امارت ملي دفاع وزارت رول په ګوته کوي، د معلوماتو شریکول.

۲. د ټولنيزو رسنيو له لارې د هېواد د دفاعي ځواکونو د فعاليتونو او لاسته راوړنو په اړه دقيق او پر وخت معلومات خپرول.

۳. ملي او نړيوالو رسنيو  ته د ملي اسلامي اردو د لاسته راوړنو او فعاليتونو په اړه په دري، پښتو او انګليسي ژبو د ۱۶۰ مطبوعاتي اعلاميو ترتيب.

۴. د ملي دفاع وزارت د ټولنيزو پاڼو او ويب پاڼې له لارې د مرکزي او ساحوي قطعاتو او جزوتامونو د فعاليتونو په اړه د ۱۲۹۹ راپورونو خپرول او د ملي او نړيوالو رسنيو سره شريکول.

۵.  د۱۱۸دانو لنډو کليپونو تدوين، ترتيب او ايډيټ چې په لاندې مهم او نور موارد په کې شامل دي: د دوو هليکوپټرو ترميم بهير، د هرات زلزله ځپلو سره مرستو بهير، د پاکستان څخه د راشړل شويو کډوالو سره د مرستو بهير، د بيلابيلو ټانکونو بيا فعالولو بهير، د پيلوټانو د فراغت غونډه، په بدخشان کې د روسيې نسکوره شوې الوتکې د عملي د ژرغونې عملياتي بهير، د فارياب او سرپل په ولايتونو په واورو کې د بند پاتې کسانو سره د مرستې بهير او د ۲۲۱ شهيد افتاب فرقې منسوبينو له لورې د سالنګ ولسوالی د مواصلاتي لارې پاکولو بهير.

د يادونې وړ ده، چې پورتني ټول کليپونه د ملي دفاع وزارت د رسمي ټولنيزو رسنيزو پاڼو له لورې خپره شوي.

۶. ۳۲ بيلابيل ويډيويي کليپونو تدوين، ترتيب او ايډيټ شوي چې لاندې مهمو مواردو په کې رانغښتل شوي دي: د افغانستان اسلامي امارت مشرتابه د وينا بهير، د ملي اسلامي اردو د قطعاتو او جزوتامونو؛ فراغت غونډې، نمايش، فعاليتونه، لاس ته راوړنې، تمرينونه، د بغلان او ميدان وردګو ولايتونو سيلاب ځپلو ته د ملي اسلامي اردو د منسوبينو له لورې د مرستې رسونې بهير، د نظامي لباس څخه د ګټې اخيستنې اړوند د ملي دفاع محترم وزير د امر تطبيق غونډه، په بلخ ولايت کې د کډوالو سره د ۲۰۹ الفتح قل اردو منسوبينو د مرستې بهير، ملي اسلامي اردو ليکو ته د داوطلبو ځوانانو د جلب او جذب بهير، د بلک هاک هليکوپټر د فعالولو او الوتنې بهير، په نورستان ولايت کې د ۲۰۱ خالد بن وليد قل اردو منسوبينو له لورې د واورې ښويدنې د ټپيانو سره د مرستې بهير، د ځانګړو عملياتو د فرقې نمايشاتو بهير چې د سلواغې مياشتې ۲۶ مې چې د سرو لښکرو د وتلو ورځې سره سمون خوري.

د يادونې وړ ده، چې پورتني ټول کليپونه د ملي دفاع وزارت رسمي پاڼو او د ملي خصوصي رسنيو له لارې خپره شوي.

۷. د ملي اسلامي اردو د منسوبينو د فعالیتونو، لاس ته راوړنو، روزنې، تطبیقاتو او فراغت مراسمو د ۷ مکمل ویډیویي مستندونو ایډیټ تدوین او تولید  او پر دې سربیره۴ مستند کلپونه چې د ملي ټلویزیون، د ملي دفاع وزارت له رسمي پاڼو او خصوصي رسنیو له لارې نشر شوي.

۸. د ملي اسلامي اردو د اړیکو ریاست امرینو او عامه چارو په برخه کې د قطعاتو او جزوتامونو د امرینو مرستیالانو او کارمندانو لپاره د مسلکي کورسونو او ښوونې سیمینارونو دایرول.

۹. د دفاع نشریه ۱۲ ګڼې په ۲۰۰۰ ټوکو او د اردو فصلنامه ۴ ګڼې د ۱۰۰۰ ټوکو  کې خپرول، چاپ ،ویشل او چمتو کول.

۱۰. د ملي دفاع وزارت په ټولو ځانګو کې د وړې میاشتې  نهمې نیټې په مناسبت د یوې ځانګړې فصلنامی چاپ او ویش.

۱۱. د ملي دفاع وزارت او ستر درستیز د قرارګاه اړوند منسوبینو ته د مطالعې فرهنګ د ودې او د پرسونل د عمومي او مسلکي پوهې د کچې د لوړولو په موخه د ۱۷۸۳ ټوکه کتابونو وېش.

۱۲.او  همدارنګه د تیر کال په اوږدو کې د ملي اسلامي اردو د لاسته راوړنو اړوند ۱۰۴ تلویزوني او راډیويي خپروني د افغانستان ملي راډیو او ټلویزیون له لارې چمتو او خپرې شوې دي.

**(لوی صاحب!)**

**د ۱۴۴۶ هجری قمری کال لپاره د ملی دفاع وزارت عمده پلانونه:**

1 .  د نظامي تجهیزاتو اونورو جګړیزو تخنیکونو  او د وسلو اکمال

۲.(د ساحوي او مرکزي قوماندانیو د ځانګړي پلان له مخې د بندرونو، لویو لارو او لویو ښارونو په ګډون دهیواد په اوو زونونو کې د ثبات ساتنې لپاره عملیات ترسره کول

۳. په مختلفو برخو کې د ملي اسلامي اردو د وړتیاوو لوړول.

۴. د هیواد په ګوابښمنو برخو کې د عملیاتي فعالیتونو پلان او پلي کول.

۵. د ملي اسلامي اردو د استخباراتي ظرفیتونو لوړول او د هیواد له دفاعي او امنیتي ادارو سره د همغږۍ ډاډ.

۶. د پالیسیو، لارښوونو او طرز العملونو تدوین او بیاکتنه.

۷. د هیواد دفاعي او امنیتي اړتیاوو ته په کتنې سره د افغانستان ملي اسلامي اردو تنظیم او تشکیلاتو  ته بیاکتنه.

۸. د اړتیاوو سره سم د تاسیساتو، نوي ډیپوګانو او زیرمو پراختیا او جوړول.

۹.د جګړیزو احضاراتو د کچې لوړول او سایکلونو تطبیق (تعلیم او روزنه، عملیاتي فعالیتونه او رخصتۍ).

۱۰. د ملي اسلامي اردو د شهیدانو او معلولینو د وارثانو ساتنه او د هغوي د حقوقو او امتیازاتو پر وخت ورکول.

۱۱. د بودیجې په پام کې نیولو سره په مختلفو برخو کې د معیشت، مالي، لوژیستیکي، روغتیا ساتني او یاملرني ،یلي کول ه.

د 1445 ه. ق کال د ملي دفاع وزارت د مهمو فعالیتونو او لاسته راوړنو راپور پورته ډول له تفصیلاتو سره ترتیب او د راتلونکو اجراآتو لپاره تاسو ته واستول شو.

والسلام

**مولوی محمد قاسم فرید**

**د ملي دفاع وزارت د ستراتیژۍ او پالیسی معین**